UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
http://unama.unmissions.org

**امنیت شورا ته د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازی یان کوبیش ګزارش**

(څرنګه چې وړاندی شوي)

**نیویارک، ۱۷ مارچ ۲۰۱۴**

***

آغلې رئیسې او د امنیت شورا محترمو غړو،

خنجر وابل عبداله د لبنان تعبه، بصرا حسن سومالې الاصله د متحده ایالاتو تعبه، نسرین خان د پاکستان تعبه او ودیم نظروف د ورسې فدراسیون د هېواد تعبه، د ملګرو ملتونو د کورنی هغه څلور تنه دي چې د جنوري په میاشت کې په وحشیانه ډول سره ووژل شول. د هغوی سره ۱۷ تنه نور افغان او نړیوال ملکې کسان هم د کابل په ښار کې د یو ځان وژونکې برید له امله ووژل شول. په افغانستان کې د زیاتو کسانو لپاره دوي نه یوازی همکاران بلکې نږدې ملګري هم وو. زه د هغوي کورنیو ته خپل ژوره خواخوږي وړاندي کوم او د یاد شویو ژمن ملکې کارکوونکو د قرباني ستاینه کوم.

آغلی رئیسې،

د افغانستان هېواد د دریو اونېو څخه کمه موده کې پلان لري چې خپل د ولسمشري او ولایتي شوراګانو ټولټاکنې ترسره کړي چې په دغه هېواد کې د واک د دیموکراتیک لېږد لومړني پېښه به ترسره شي. د دغه تاریخي پېښې د ترسره کولو لپاره مشرتابه او ژمنتیا دوه ډېر مهم اصلونو دې چې باید وساتل شي. دغه ټاکنې چې د یو باثباته سیاسې جوړښت څرګندوی دی، یو ستر پړاو دی چې ولسمشر حامد کرزی ته د تاریخ په پانو کې ځای ورکړي.

زه د افغان ټولو وګړو څخه، چې د رایو ورکولو قابلیت لري، غوښتنه کوم چې د اپریل د میاشتې په ۵ نېټه کې خپل رایه وکاروي. دغه حق یو نړیوال دیموکراتیک حق دی. چې په ورته حال کې یو مسؤلیت هم دی چې د خپل هېواد دیموکراتیک بهېرونه او استازی بنسټونه پیاوړي کوي. اجازه مه ورکوی چې ورانکاره ډلې او ترهګر تاسې د خپل د رایو حق او راتلونکې څخه بې برخه کړي. دغه ګډون که د رایو ورکوونکو، یا د ټولټاکنو د نهادونو د کارکوونکو او یا د ناظرینو په بڼه وي، ټول زورزیاتۍ، تاوتریخوالې او ډارونه رده وي. هغه مسیر چې ستاسې ویاړلي ملت د هغه په ذریعه خپل مشرتابه ټاکې. افغانستان د بدلون په یو حساس پړاو کې قرار لري چې یوازی د باور ور سیاسې ځواک انتقال، کولای شي د سولې او مصالحې په ګډون، د یو لا پراخ سیاسې اقتصادی او ټولنیز پراختیا اجنډاو په خاطر، په ټول قومې کړښو کې د یو ولسې ماموریت او ملاتړ له لاري، اړین او د وړاندوینو وړ ثبات چمتو کړي.

د ټولټاکنو لپاره تخنیکي تیاریګاني، کوم چې د افغانانو تر مشرۍ او مدیریت لاندې یو بهیر دی، په خپل مسیر کې سم روان دی او په ځانګړي ډول د درغلیو د مخنیوی او کمولو په ډګر کې له پخوا په پرتله ښه کیفیت لري. ملګري ملتونه د دغو ټاکنو په اداره، څارنه او رسیدګۍ کې ونډه نلري. د خپل دندو له مخې، زه تر اوسه او تر دې وروسته هم خپل د نیکو هڅو کار ته به دوام ورکړم تر څو ټولو ښکیلو خواو سره د تخنیکي تیاریګانو ملاتړ وکړم ترڅو د پروسې چټکتیا، عامشمولیت او ژمنتیا ترویج او ښې پایلې او پراخ منل هم ډاډمن شي

زه د ټولټاکنو نهادونو څخه غوښتنه کوم چې په خپل پریکړو او رسیدګېو کې بشپړ روڼتیا ته ژمن پاتې شي او واضح او پر وخت اړیکې ډاډمن کړي. دا په ځانګړي ډول د رایو ورکولو د مرکزونو د پرانیستلو او د حساسو رایو ورکولو موادو د کنټرول په اړوند په وروستیو پریکړو کې به ډیر مهم وي. د ټاکنو شکایاتو ته رسیدګې، چې د هغه د تعریف د بڼې څخه ښکاري، د ننګونو یوه بله برخه ده. زه د ټولټاکنو د شکایاتو نوي کمیسیون جدیت ستاینه کوم، که څه هم د هغه دندو نهایي کیدل لا هم روان دی، له ځانه ښودلی دی.

د رسمي خپلواک ټولټاکنو ادارو برسېره، د یو سوله ایز او د باور وړ ټاکنو مسؤلیت په زیاته پیمانه د سیاسي مشرانو، نوماندانو او د هغوي ملاتړ کوونکو ته راجع کیږی. تر دې مهاله، زه د کمپاینونو د درناوی ډک چلند ستاینه کوم. زه د ټولو نوماندانو څخه غوښتنه کوم چې د خپل ملاترو چلند او کړنې داسې مدیریت کړي چې په عام ډول سره د هغو درغلیو په وړاندې ربښتنې ژمنتیا ښکاره کړی کوم چې د دوي په نوم ترسره کیږي. په هغو ځایونو کې چې د سرغړونو شکایت شتون ولري لازمه ده چې په زغرده د رسمي ادارو له لاري حل شي.

دا جوته ده چې هر ټاکنې بایلونکې لري، په ځانګړي ډول د افغانستان په اوسنې شرایطو کې ټاکنې ټول ګټونکې نشې کیدای. که څه دا په ټاکنو کې د خلکو غږ نشي بدلولاي، نو ځکه زه نوماندانو ته سپارښتنه کوم چې دا درک کړي چې هر بایلل په اول نظر کې د درغلیو د ثبوت په معنا نده. د ټولټاکنو څخه لا دمخه د مدني نافرماني ګواښونه او یا بې نظمې جوړول یوازی کړکېچ نور هم زیاتوي.

آغلی رئیسې،

پر ټاکنو باندې امنیت خورا اغیزه لری. تر دې مهاله د ټاکنو په اړوند د تاوتریخوالي کچه د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو په پرتله ټیټه وه، که څه هم په عمومي توګه امنېتي پېښې زیاتې شوي دي. خو د ټاکنو په اړوند تاوتریخوالي مخ پر زیاتیدو دی. د کورنیو چارو وزارت چې د دغه بهیر امنېتي پلان مشرتوب کوي، خپله ټینګ ژمنتیا ښکاره کړی دی - په ځانګړي ډول، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره په همغږی کې، د ښځو د ګډون د حقونو پر ساتنې باندې ټینګار کړی دی.

زه، د یاغیانو د ځېنو برخو لخوا، په خاص ډول سره د ګلبدین حکمتیار د اسلامي ګوند د وسله واله څانګه، د ټاکنو څخه د ملاتړ د څرګندولو له امله هرکلی کوم. خو زه دا خبره بیا روښانه کوم چې حتې  هغې ډلې، لکه طالبان، چې ټاکنې ردوي، هغوي هم مسؤلیت لري چې د یو ملکي پروسې بهیر درناوي وکړي. زه د طالبانو د وروستي اعلامېې څخه ډیر اندېښمن چې غواړی دغه بهیر د زور زیاتي له لاري ګډوډ کړي او د ترهګری کمپاین پې پیل کړی دی. ټول رایه ورکوونکې، د ټاکنو د ادارو کارکوونکې، نوماندان او څارونکې ملکي وګړی ګڼل کیږی. پر ملکي وګړو باندي برید کول، د رایو ورکولو پر مرکزونو او نورو ځایونو باندې بې توپېره برید کول، د هر ډول سیاسي مشروعیت دعوا کمزوری کوي او د نړیوال قانون له مخې د سزا ورکلولو وړ دی.

آغلی رئیسې،

د سولې لپاره پراخه هبله د ولسمشرۍ د نوماندانو د مناظرو، خبرو اترو او همدارنګه په هېواد کې د افغانانو سره زما په لېدنو کې له ورایه څرګنده ده.

ما له ځانه سره، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي لپاره، یو پیغام راوړی دی چې کاو دوه نیم لکه افغان ښځو لخوا د سولې په ملاتړ کې لاسلیک شوی دی. زه د دغه کار د تنظیم کوونکو او غوښتونکو ستاینه کوم چې خپل غږ یې اوچت کړی دی. دا ډیری

افغان وګړو غږ دی. دغه افغان ښځې یوازې د خپل کورنیو د راتلونکې لپاره د امنیت چانس غوښتونکې دي. دا د هیلې او انعطاف یو پیغام دی چې د تروریزم، سخت دریځې، د هیواد څخه بهر جناېي شبکې او په داخل کې د قدرت د زورواکو لخوا د ناخوالې او وژنې د تحمیل پر مهال چمتو شوی دی.

ملکي وګړي د جګړو تر ټولو زیات پېټی زغملی دی او د ملکي کسانو د تلفاتو زیاته کچه چې په ۲۰۱۳ کال کې پیل شوی دی، سږ کال هم دوام لري. یوناما د جنوری او فبروری په میاشتو کې د ملکي وګړو تلفات ۶۴۷ پېښې ثبت کړي دي چې د ۲۰۱۳ کال د همدې مودې په پرتله ۱۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. یو ځل بیا د دغه تلفاتو زیاتره برخه، ۷۸ سلنه، د حکومت ضد عناصرو ته نسبت ورکړ شوي دي.

تر دې مهاله د افغان چارواکو او طالبانو تر منځ په نبغه د خبرو اترو کې کوم څرګند پرمختګ ترسترګو شوی ندی، سره لدې چې د سولې د عالي شورا لخوا ځینې وروستۍ نوښتګری هڅې شوي دي. د پوهاوي د رامنځته کولو په مخه او د ګډو چوکاټونو د جوړولو هڅې باید د زغم سره دوام ومومي تر څو داسې یو چاپېریال رامنځته شي چې په راتلونکې کې لا رسمي هڅو ته لار هواره کړي، چېرې چې ملګري ملتونه وکولای شي لا مهمه ونډه ولوبوي.

د یوناما اوسنې کار کې د ځایي شخړو د کمولو ملاتړ هم شامل دی، که چېرې کنټرول نشي، په بې ثباتي کې زیاتوالی راشي. د دغه ماموریت، په ټول هېواد کې، د ۱۳ ساحوي دفترونو له لاري، یوناما په کال ۲۰۱۳ کې په اتو ولایتونو کې د سولې اوه نوښتونه تسهیل کړي دي. د دې برسېره سږ کال تر دې مهاله دوه نور نوښتونه، چې اوه ولایتونه پکې شامل دي، پیل شوي دي. یاد شوي هڅې د سیاسي ښو هڅو د بیلا بیلو برخو څخه جوړ شوی دی چې د ټولنو ترمنځ د باور رامنځته کولو او د ډیالوګ څخه نیولی بیا د شخړو مخنیوي او منځګړیتوب پوری دوام کوي. د زیات تمرکز د ډګر په ډول، د یو سوله ایز رایو ورکلو د ترویج په ګډون، د عالمانو او مذهبي مشرانو سره کار کول دي.

آغلی رئیسې،

په نهایت کې د افغانستان ټیکاو او پایښت په سیمه پوری تړلی دی. پداسې حال کې چې نور نړیوال فعالین خپل حضور کموي، زه خوشحاله یم چې ګاونډي هېوادونه او سیمه ایز ځواکونه د افغانستان د حل لارې د ملاتړ په خاطر د فعال ښکیلتیا ضرورت درکوي. دا درک شتون لري چې سوله ایز، باثباته او هوسا افغانستان، په پای کې د ټولو په ګټه ده.

د پراخ علاقه مندی او فرصتونو په پام کې نیولوسره، زه سیمه ایزو اړیکو ته زیات شخصي وخت او پام وقف کوم. د دغه ګزارش په موده کې ما د روسیې فدراسیون، ترکمنستان، هندوستان او پاکستان هېوادونو ته سفرونه ترسره کړي دي. په اسلام آباد کې دا ډاډ ترلاسه کول چې لومړي وزیر نواز شریف د نه مداخلې د پالیسۍ تر پوښښ لاندي، د دوه اړخیزو اړیکو د ښه کیدو ژمنتیا دوام لري، چې پکې ګډ اقتصادي پرمختګ او د پولو فعاله مدیریت هم شامل دي. د بهرنې لاسوهنې پرته او د باور وړ افغان ټاکنو اهمیت په روښانه توګه ومنل شو.

همداراز زه خوښ یم چې د استانبول د بهیر تر پوښښ لاندي عملي پرمختګونه دوام لري. پدې وروستیو کې د باور جوړونې د تدبیرونو په مرسته، په کابل کې د ترهګري د تمویل او په لاس جوړ چاودیدونکو توکو په وړاندې د مبارزې په اړوند ورکشاپونه جوړ شوي او په مسکو کې د بنک دانې په وړاندی هڅې تر سره شوي دي. په سیاسي لحاظ د سیمه ایزو فعالینو ښکیلتیا جدیت په دې کې چې د هندوستان هېواد د جنوری په میاشت کې، د لوړ پوړو چارواکو د غونډې کوربه و، دا پداسې حال کې ده چې ټاکل شوي چې د وزیرانو غونډه د اګست په میاشت د چین په هېواد کې ترسره شي.

آغلی رئیسې،

په افغانستان کې سوله او ثبات به دوامداره نه وي، پرته له دې چې اقتصادي او ټولنیز بدلونونه د مرستندویانو له خوا د خپلو ژمنو د پوره کولو په مرسته رامنځته شي. د جنوری په ځانګړې د ګډ همغږۍ او څارنې بورډ (JCMB) غونډه کې – چې د ټولو ۱۱ ولسمشرۍ نوماندانو په ګډون ترسره شوه – د ۵۰ غړو هېوادونو استازو د افغانستان د ملاتړ دوام یو ځل بیا ټینګ کړ. د

نړیوالو مرستو ژمنه شوې کچه ربښتیا هم استثنایي ده، خو دا د بریالي سیاسي انتقال او د حکومت له خوا د حکومتولۍ، اصلاحاتو، اقتصادي پایښت او د حقونو پر بنسټ اجنډا کې د څرګند پرمختګ پورې تړلې ده. زه د ولسمشرۍ د نوماندانو له خوا د توکیو د متقابل حساب ورکونې چوکاټ لاندې د هڅو د دوام او چټکتیا ژمنې هرکلی کوم.

د افغانستان ځان بسیاینې لپاره په کار ده چې پر پراخ بنسټه، ټول شموله او پایداره اقتصادي پرمختګ، د بېوزلۍ کمولو، او کار پیدا کولو ته زیاته پاملرنه وشي. نړیوال بانک د همغږي او نظارت ګډ بورډ، JCMB غونډې ته د راتلونکو اقتصادي ننګونو په اړه یو جدي تحلیل وړاندی کړ چې پکې د مالي تشې زیاتوالی، د حکومت د عوایدو راټولولو ټېټه کچه، لوړ امنیتي لګښتونه او د بیو اوچتوالې شامل دي. د افغانستان اقتصاد د جګړو له کلونو او په تېره لسیزه کې د نړیوالو مداخلو د پراخې کچې او پرې د تکیې له امله اغېزمن شوی دی.

که څه هم خطرونه شته، خو د یوې عادي پراختیایي اجنډا پر لور د ستنېدو په صورت کې لا زیات فرصتونه هم موجود دي. دا چې د روان کال په وروستیو کې د نوي حکومت سره د وزیرانو په کچه پراختیایي کنفرانس ترسره کېدونکی دی، باید عادي ونه ګڼل شي او په دې برخه کې جدي کار وشي. د قانوني اقتصادي فعالیتونو پیاوړتیا چې د کارموندنې سبب کېږي، او د غیرقانوني اقتصاد کمزوري کول باید د ټولو پراختیایي تګلارو اساسي برخه وي. د نشه اي توکو تولید او قاچاق د خلکو هوساینه، اقتصاد او بنسټونه زیانمنوي، او همدارنګه د ترهګرۍ د تمویل یوه مهمه سرچینه ګرځي. حکومت او نړیوالې ټولنې دواړو ته په کار ده چې، اوږدمهاله ګډه ستراتیژي، د لوړې کچې رهبري او سیاسي اراده ولري.

آغلې رئیسې،

د توکیو چوکاټ لا هم د ملکي پراختیایي مرستو لپاره یو منل شوی بنسټیز ابزار دی، چې د ناټو د شیکاګو سرمشریزې د اوږدمهاله امنیتي ملاتړ ژمنو ترڅنګ له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د تعامل بنسټ جوړوي او د بدلون د لسیزې په اوږدو کې د دوام ډاډمنتیا رامنځته کوي. د افغانستان او متحده ایالاتو ترمنځ د دوه اړخیز امنیتي تړون د وروستي کېدو په اړه دوامداره ناڅرګندتیا د بې‌ثباتۍ یو بل اړخ دی، خو د ستراتیژیک زغم په لرلو سره، زه ډاډه یم چې دواړه لوري به دوه اړخیزې هوکړې ته ورسېږي.

آغلی رئیسې،

په تېره لسیزه کې د بشري حقونو په برخه کې د افغانستان لاسته راوړنې، په ځانګړي ډول د ښځو او ماشومانو حقونه، باید وساتل شي او د لنډمهاله سیاسي مصلحتونو قرباني نه شي. عدالت، ښه حکومتولي، د قانون حاکمیت او بشري حقونه د تلپاتې سولې، عادلانه پرمختګ او انساني امنیت بنسټیز عناصر دي. د ټولو افغانانو – ښځو او نارینه وو – د حقونو ساتنه او وده، د توکیو په کنفرانس کې د حکومت مهمه ژمنه وه چې په پای کې د مهمو دولتي بنسټونو مشروعیت او اغېزمنتیا پیاوړې کوي.

زه د مارچ په لومړۍ نېټه د حکومت له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون پلي کېدو په اړه د راپور د خپرېدو هرکلی کوم. بنسټیز معلومات او دوامداره څارنه د حساب ورکونې مهمې برخې دي. خو د ښځو په ژوند کې حقیقي بدلون – د تاوتریخوالي کمېدل او په عدلي او قضایي نظام کې د عاملینو د معافیت پای ته رسېدل – به د پرمختګ اصلي معیار وي.

زه همدا راز د حکومت هغه ژمنتیا ستایم چې تر ۲۰۱۶ کال پورې په وسلوالو ډلو کې د ماشومانو ګمارل پای ته ورسوي، چې د دې لپاره په کار ده د کم عمره کسانو د جذب د مخنیوي د کاري پلان پلي کېدل لا پسې ګړندي شي. د ماشومانو د جذب او ګمارنې د عاملینو سره حساب کتاب او د مخنیوي لپاره ټاکل شوي تدابیر عملي کول به نه یوازې له نوملړ څخه د افغانستان وتل ډاډمن کړي، بلکې د امنیتي ځواکونو د مسلکي کېدو بهیر به هم پیاوړی کړي.

آغلی رئیسې،

زه یو ځل بیا د نوي ماموریت په غځېدو سره د یوه سوله‌ییز او هوسا افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو پر اوږدمهاله ژمنتیا ټینګار کوم. اوسني ناڅرګند حالت ته په پام سره، ډېری اړوند اړخونه د نوم له یادولو پرته، د ماموریت پر دوام ټینګار کوي او دې ته

ارزښت ورکوي چې یوناما، د منځګړیتوب او ښې حکومتولۍ، بشري حقونو ساتنې او ودې او د نړیوال پرمختګ د انسجام زمینې برابرولو کې خپلې چارې په ښه توګه پرمخ وړي دي. په ملي کچه د ماموریت شتون او اثر لا هم یوه ارزښتناکه سرمایه ده چې د ټاکنو، اړیکو او بشري حقونو اړوند فعالیتونو په ترسره کولو کې مهم رول لري. په حقیقت کې، لکه څنګه چې نور نړیوال بنسټونه او غړي هېوادونه خپل محلي او ساحوي حضور کموي، خو نړیواله ټولنه د دې متنوع هېواد په اړه د خپل درک او لاسرسي په ډاډمنولو کې لا هم زموږ ملاتړ ته اړتیا لري.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو او پراخې نړیوالې ټولنې ترمنځ پراخې همغږۍ ته ډېره اړتیا ده. زه هڅه کوم چې د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې، د تمرکز یووالي، ګډو هڅو او د تخصصي ادارو له مهارتونو څخه د ملي منل شوو لومړیتوبونو او سیمه‌ییزو نوښتونو د ملاتړ لپاره ښه ګټه واخیستل شي. بشري مرستې هم د ملګرو ملتونو د کار یوه جلا خو مهمه برخه ده، چې اړتیاوې یې ښایي په نږدې راتلونکي کې زیاتې شي، سره له دې چې نړیوال پام نورو خواوو ته اوړي. دا ټولې کړنې، چې زموږ د ستونزمن ماموریت د پلي کېدو لپاره ترسره کېږي، کافي او د باور وړ سرچینو ته اړتیا لري.

زه د پرمختګ او مثبت تحرک په یادولو سره، ټینګار کوم چې دا لاسته راوړنې لا هم ډېرې کمې دي. خو افغانستان اوس داسې نه دی لکه څنګه چې ځینو بدبینانو وړاندوینه کړې وه چې، له ۲۰۱۴ کال وروسته به پر یوه حتمي کړکیچ کې ښکیل شي. په داسې نامعلوم پړاو کې، تر ټولو مهمه اړتیا د سیاسي واک منظم او پر وخت لېږد دی. د ۲۰۱۴ کال د اپرېل د ټاکنو بریا به د افغانستان د بنسټیز او سیاسي ثبات د پیاوړتیا او پر راتلونکي د باور رامنځته کولو لپاره حیاتي ارزښت ولري.

ستاسو د پاملرنې څخه مننه.

***

**په افغانستان کې د ملګرو  ملتونو مرستندي پلاوي (یوناما)، کابل، افغانستان**

*د ټولو رسنیو لپاره د آنلاین  اړیکې معلومات دلته:* http://unama.unmissions.org